# په کابل کې نمونه يي ښوونځي – برېښنايي راتلونکي باندې ټينګار کوي



*اوس، نجونې فرصت لري چې د کمپيوټر سافټ وير کارول زده کړي. دغه کار سره به د کار په مارکېټ کې د نجونو لپاره کاري فرصتونه زيات شي.*

نمونه يي ښوونځي د نورو ښوونځيو لپاره د بېلګې پخېر فعاليتونه کوي. معيارونه ټاکي، ښه تدريس کوي او د ښوونځي ښه مديريت کوي.

په کابل کې په ځانګړي ډول، د لايقه زده کوونکو لپاره درې (۳) دا ډول نمونه يي ښوونځي شته دي. اماني د هلکانو لېسه، عايشه دراني د نجونو لېسه او جمهوريت لېسه چې د نجونو لپاره د سوداګرۍ ثانوي لېسه ده. په ۲۰۱۴ کال کې، د المان حکومت د المان نړيوالې همکارۍ ټولنه (GIZ) وګمارله چې د دغه دربو (۳) ښوونځيو په پراختيا کې مرسته وکړي څو نومورې ښوونځي په افغانستان کې پر نمونه يي ښوونځيو باندې بدل کړي.

د دغه ښوونځيو د مديريت ټيمونو پر پراخه کچه باندې له بدلونونو په راوستلو سره پيل وکړ. د کارکوونکو له نوي تشکيلونو له معرفي کولو څخه تر د مؤثره مالي او معاشاتو اداره کولو او د زيربنا مديريت پورې، د نوي کارونو په کولو سره د مديريت ټيمونو پام ورو ننګونو سره مخ شول. په هرصورت، د نړيوالو متخصصينو روزنيز کورسونو او لارښوونو په ذريعه، هغوی تجهيز شو څو له دغه ننګونو سره مبارزه وکړي. او په دغه برخه کې په ريښتيا سره بدلونونه هم راغلي دي. اوسمهال، دغه ښوونځي ډېر ښه تنظيم شوي چې هغوی يي د دې جوګه کړي څو له لوړ کيفيت سره تدريس وکړي کوم چې زده کوونکي د برېښنايي راتلونکي لپاره چمتو کوي.

ښه تدريس هر نمونه يي ښوونځی قوي کوي خو، ښه روزل شوي ښوونکو ته اړتيا لري. نو ځکه، د دغه درې (۳) ښوونځيو ښوونکي ببرته صنفونو ته تللي دي. اوس په تعليمي نصاب کې د تدريس کولو نوي طريقې او ګټوره زده کړې او همداراز رياضي او ساينس مضامين شامل دي، په داسې حال کې چې الماني ژبه د لومړنۍ خارجي ژبې په صفت په نصاب کې ځای پر ځای شوی ده چې زده کوونکي يي زده کوي. ژمن ښوونکو نوې پوهه ترلاسه کړې ده او اوس دغه پوهه خپلو زده کوونکو ته انتقالوي. د تدريس معاصرو طريقو ترتيبولو او معرفي کولو پلانونه هم شته دي څو په ښوونځيو کې د تدريس کيفيت لا ښه کړل شي. انګليسي ژبه به هم په راتلونکي کې د يوې خارجي ژبې په صفت په پراخه پيمانه تدريسېږي.

که څه هم، دغه کاريوازې د تدريس کيفيت پورې اړه نه لري. په کاميابه زده کړه کې چې چاپېرېال يي هم يو مهم فکتور دی. نو، د لويو نوي ځايونو، کانتينونو او د تودوخې

سیستمونو او منظمه صفايي د زده کړې یو ښه چاپېریال جوړ کړی دی چېرته چې ماشومان او ځوانان د خپل تعلیمي کال په اوږدو کې د هوسایني احساس کولای شي. نوموړې ښوونځي په مناسبه توګه له نوي لابراتوارونو او کتابونو او همداراز هنري او موسیقی له ګروپونو سره مجهز شوي څو دا کار باوري شي چې د زده کوونکي د ښوونځي له فکر څخه زیاته شیان تجربه کړي. د ۲۰۱۸ کال له پایي راهیسې، د اماني او عایشه دراني لېسې هم د نوي کمپیوټرونو او مناسبه سافټ ویرونو او همداراز انټرنټ څخه برخه منه شوي دي، دا هغه څه دي چې په افغاني ښوونځیو کې کمیابه دي.

د عایشه دراني لېسه، د کتابتون ۵ کپیوټرونو سره سره، اوس د کمپیوټر په خونه کې ۲۵ کمپیوټرونه لري. د دغه لېسې مدیره شبنم محمدي په لېواتیا سره داسې وايي، موږ په یوویشتمه (۲۱) پېړی کې ژوند کوو. له کمپیوټر څخه پرته کار پرمخ وړلای نه شو. اوس، نجوني فرصت لري چې د کمپیوټر سافټ ویر کارول زده کړي. دغه کار سره به د کار په مارکېټ کې د نجونو لپاره کاري فرصتونه زیات شي. په ۱۰، ۱۱ او ۱۲ ټولګیو کې اوسمهال، تقریباً ۱۰۰ نجوني د معلوماتي ټکنالوژی(IT) درسونه وايي. د هغوی ښوونکو د کمپیوټر په اړه لومړی څلور ورځنۍ روزنه بشپړه کړې ده چې دغه روزني ډېره لېوالتیا جذبه کړې ده. محمدي زیاته کړه، 'د موږ ښوونکي غواړي چې په دنده کې لا زیات روزني ترلاسه کړي څو خپل د کمپیوټر زده کړې مهارتونه پراخه کړي او وکولای شي په زیاته اغېزمنه توګه ښوونه/تدریس وکړي.

د اماني په لېسه کې هم د هلکانو لپاره ۳۶ کمپیوټرونه لګول شوي دي. لکه څرنګه چې مدیر صاحب محمد علیم امید وايي، ' د ښوونکو لپاره د معلوماتي ټکنالوژی له ۶ ورځنۍ روزنې سره مو پیل وکړ. موږ په برېښنایي عصر کې ژوند کوو. اوس، کمپیوټري مهارتونه ضروري دي.' نو ځکه، اوس دواړه لېسې د ښوونکو لپاره لازیات کورسونه په پلان کې لري څو د ښوونکو مهارتونه زیات کړي.

د افغانستان د پوهنې وزارت هم اوسني میلان ته عکس العمل ښودلی او په خپل تعلیمي نصاب کې یې د معلوماتي ټکنالوژی مهارتونه شامل کړي دي. وزارت همداراز د ۱۰، ۱۱ او ۱۲ ټولګیو ته د معلوماتي ټکنالوژی درسي کتابونه هم ورکوي. دا هر څه د دې لپاره چمتو شوي دي چې د معلوماتي ټکنالوژی مهارتونو په افغاني ښوونځیو کې د تدریس یوه برخه شي.

نمونه یي ښوونځي دا ثابتوي چې ښوونځي څنګه کولای شي خپل د تدریس کیفیت ښه کړي. د افغانستان د پوهنې ملي ستراتیژیک پلان دا مشخصوي چې هغه تجربې چې نمونه یي ښوونځیو ترلاسه کړي، هغه به په ټول هېواد کې په نورو ښوونځیو کې په تدریجي ډول عملي شي. دا کار به باوري شي چې ټول افغان ماشومان او ځوانان به په

راتلونکي کې له دغه سترګې پر لاره ستراتیژي څخه ګټه واخلي.

**د خپرونې نېټه:** ۰۳/۲۰۱۹.
**پروګرام:** په کابل کې د المان په حمایت ښوونځي پیاوړي کول
**اداره کوونکی:** د المان فدرالي حکومت د باندنیو چارو وزارت (AA)
**همکاره ادارې:** د افغانستان د پوهنې وزارت، اماني د هلکانو لیسه، عایشه دراني د نجونو لیسه او جمهوریت د نجونو لپاره د سوداګرۍ ثانوي لیسه.
**تطبیقوونکې اداره:** د المان نړیوالو همکاریو ټولنه (GIZ)
**ولایتونه:** کابل
**د دغه پروګرام موخې:** د المان په مرسته په کابل کې درې لیسو لپاره پراختیایي بنسټ جوړول دي چې دغه لیسې پر نمونه یي لیسو باندې بدلې شي.